ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار ۲۰۱۵/۱۲/۱۲

# د زړونو او دماغونو ماينونه

ما ځيرکيار ته يو بي نومه چا له جرمني نه يو کتاب راليږلی دی او هيله يي رانه کړي ده چي يو څه پرې وليکم. خو په کتاب او په اِينټر نيټ کي چا د دغه ملي ژورناليسټ او تاريخپوه د ژوندليک په اړه څه نه دي ليکلي. اټکل کوم چي افغان ملتی تمايل به يي لاره، يا به يي په افغان ملت ګوند کي دوستان لرل؟ زه له دغه کتاب («د زړونو او فکرونو ماينونه») نه دوه برخي غوره کوم او هره برخه د عبدالجليل وجدي په خپله وينا کي پرېږدم

کتاب د ۱۹۹۹د اپريل په ۴(۱۵ وری ۱۳۷۸) بشپړ شوی و او په کال۲۰۰۰کي خپور شوی و، او ۲۴۰+ مخونه لري .خپرندوی يي په جرمني کي «د پښتني فرهنګ د ودي او پراختيا ټولنه» ده، او کتاب د دغي ټولني د مشر محّمد اصف وردک په «ځاني مالي پانګه خپور شوی» دی. چاپځی يي «ملت پريس لاهور» دی. که څوک د ښووان وجدي د ژوند ليک په اړه معلومات لري. هيله ده چي زما سره يي شريک کړي. او س به راشم د وجدي خپلي وينا ته

## (۱) باچا خان فخر افغان د جمال مينې تکيه خانې ته تللی و

زما له نه هيرېدونکو خاطرو څخه يوه داده، چي زه د ديموکراسی په لسيزه[ ۱۹۷۳-۱۹۶۳] کي د عاشورې د مراسمو په يوه ورځ[ په کابل کي] د جمال ميني تکيه خاني ته ورغلم، زما يو ملګری هزاره قربانزاده چي هغه وخت يي له ماسره په يو دفتر کي کارکاوه زما له ورتګ څخه ډير خوشحاله شو. همدا رنګه د ولسي جرګي يو وکيل اسمعيل مبلغ چي د چا خبره ماورسره (سلام عليک) درلود زما د دغه ورتګ ډيره قدرداني وکړه

زه چي له تکيه خاني څخه وتلم داسي فکر راته پيداشو چي که چيری د پښتنو ملي مشران د عاشورې په ورځ د جمال ميني تکيه خاني ته ورشي نو د دغه کار نتيجه به د ملي وحدت د لاتينګښت له پاره ډيره ښه وي. بس نور کارونه مي پرېښودل له همغه ځای نه نيغ د افغان ملت د ګوند دفتر ته ورغلم او له دوی نه مي وغوښتل چي د هغه ګوند له مشر ديپلوم اينجنير غلام محّمد فرهاد او د پښتنو د نامتو مشر خان عبدالغفار خان څخه هيله وکړي، چي د جمال ميني په تکيه خانه کي د عاشورې د ورځي په مراسمو کي برخه واخلي. دواړه مشرانو داخبره په خوشحالی ومنله

د عاشورې په ورځ کله چي دغه مشران ورسره نورمهم ملي او سياسي شخصيتونه، د جمال ميني د تکيه خاني نږدې سرک کي له خپلو موټرانو څخه راکښته شول او د تکيه خاني په لوري يي حرکت شروع کړ، يو شمير هزاره ځوانانو خان عبدالغفار خان له زمکي څخه پورته کړ او د خپلو پياوړو متو څخه يي ورته تخت جوړکړ. په همدغه روان تخت

کي يي تکيه خاني ته ور ورساوه او هلته يي په خپل ممبر باندي کښيناوه. ښاغلي مبلغ د هرکلي په وينا کي خان عبدالغفار خان ته وويل: ,,ما می شنديم که بيشتر مردم بشما لقب فخر افغان داده ولی، ميگويم که شما فخر آسيا نيز می باشيد،،. په مقابل کي يي خان عبدالغفارخان په خپل مخصوص سبک سره د قامولی، وروروليٰ، ميني او محبت په باره کي خبري وکړي

مور[ليکوال عبدالجيل وجدي] وينو او خبريږو په کومو هيوادونو کي چي سني او شيعه مسلمانان يو د بل تر څنګ ژوند کوي د هغو ملکونو د امنيت مسئولين ډيره زياته ويره لري څکه په دغه ورځ احساسات ډير په څوش راغلي وي. مګر په هغه ورځ د جمال ميني په تکيه خانه کي د ژبي، نـژاد او مذهب په نامه درول شوي ديوالونه ونړيـدل. په هغه ورځ يو پښتوعالم استاد [قيام الدين ]خادم مرحوم په خپله وينا کي وويل چي موږ بايد د نن په څير يو د بل عبادتخانو ته ورشو. په ځواب کي يي محّمد اسمعيل مبلغ د استاد نظر تائيد کړ، خو يوه توضيح يي ضروري بلله، ويي ويل دلته چي تاسي راغلي ياست دا زموږ تکيه خانه ده، عبادت خانه نه ده. کنه نو زموږ اوستاسي عبادت خانه شريکه ده او هغه مسجد دی. دا خو د ديموکراسی د لسيزي خبري وي وګورو چي د ثور د کودتا[ ۱۳۵۷لمريز=اپريل ۱۹۷۸] نه وروسته حالاتو او روابطو د څه ډول تراژيدی بڼه غوره کړه. مخـونه: ۸۰تر۸۱

**خدايه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک**

**پـه ظاهر په باطـن سپين سپيڅلي خلک**

رحمان بابا

ډاکتر رحمت ربی ځيرکيار
zirakyar١٢٣٤@yahoo.com
۱۲ دسمبر۲۰۱۵=۲۰ لينده/قوس ۱۳۹۴